تل افغان

www.talafghan.com

خپلواکه ، ناپېیلې ، ټولنیزه او فرهنگي وېب پاڼه

م.ا. بســــــمل




له مکارو لا مکاره

له خونخوارو لا خونخواره

ولس ستا له لاسه غرق شو

ریا کاره ریا کاره

دا له کومه را نازل شوې

دتمام ولس قاتل شوې

خدای دې ژر ورک کړه بدکاره

گنهکاره گناهکاره

په ما گرانو لوستونکو !

له تاسو ټولو څخه منندوی یم چې زما لیکنې په حوصله او مینه مینه لولئ ستاسو له تیلیفوني اړیکو او زرگونو ایمیلونو له رالیږلو څخه مننه کوم کورمو آباد دا چې تاسو شکر زیات یاست باور وکړئ چې دومره وخت نه لرم چې هر یو ته بېل بېل ځواب ولیکم او که په یو لیک سره ستاسو جمبست ایمیلونو ته ځواب درکړم کېدای شي ستاسو ایمیل پتې داسې کسانو ته هم څرگندې شي چې تاسو ورسره اړیکه لازمه نه بولئ  ځکه د همدې لیکنې په طرځ کې تاسو ته په یو وار لیکم، چې له تشویق، اخلاص او مینې څخه مو منندوی یم.

زه چې څه لیکم په خدای (ج) باور وکړئ چې زره تعصب له ماسره نشته او نه له چا سره دښمني لرم خو حالات دومره ترخه دي چې زغم یې نور راته گران شي.

په پخوانيو رژيمونو کې هم لاس تر زنې لاندې نه وم ناست ما خاموشي نه وه اختيار کړې ما د خپل ضمير غږ تل
اوچت ساتلی ما ته دا لويه ګناه ښکاري چې ظلم ووينم او خوله پټه کړم دا نه تنها زما بلکې د هر انسان انساني
فريضه ده چې بايد د حق په لار کې له ژوند څخه هم تېر شي.
څوک چې ناروا چارې ويني او د مخامخ مقابلې فزيکي يا شفاهي وس ورسره وي خو غوږونه مړه وا چوي دا جرم
دی له اخلاقي اړخه دا آن له مرګه بد تر ګڼم ځکه چې بيا د انسان وجدان نا ارامه کيږي دا نا ارامي دانسان د مرګ
تر شېبې پورې ورسره مله وي ځکه له داسې دايمي مرګ څخه د حق په لار کې په هغه لمړۍ ګړۍ مرګ بهتر ګڼم
له همدې کبله په ويا ړ ويا ړ ليکنې کوم او خپل وجدان مې ارام ساتم.
دا پاس کرښې مې د دې لپاره وليکلې چې هم زما د نظر پلويان ما پوره وپيژني او هم زما د نظر مخاليفان له ښکه
مرغه چې زما د نظر مخاليفان په نشت حساب دي.
څه چې نن اړين ګڼم هغه دا چې په سلګونو دوستانو ما ته ليکلي چې سرلوړی او سپې قلم دې تل تاند او سه له دې
جملې څخه ښاغلی م. ف. انګار داسې ليکلي دي:
ستا په قلم ليکل شوې هره جمله زموږ د دردپه دره ولس د بدې ورځې تمثيل کوي په مداري کرزي او تاليڅتو يې
تندر راغورځوي.
ګرانو دوستانو په تېره بيا ګران انګار صاحب!
يو ځل بيا ستاسو له مينې څخه مننه کوم خو باور وکړئ چې زه له حامد کرزي سره هيڅ شخصي ستونځه نه لرم
د کرزي په اړوند زما هره ليکنه که ظاهرأ تر خه ښکاري په حقيقت کې د هغه په ګټه ده خو که هغه ورته متوجه شي.
کرزی سلاکاران لري دا سلاکاران به کرزي ته ډول ډول مشورې ورکوي خو دا دی لس کاله يې په دې لمبو انو
هم ځان وخوړ او هم زموږ دا تباه تباه هيواد نتيجه يې تر سپکو سپکې شوې.
کرزي که د هرې کچې شخصيت درلود هغه يې هم د خپلو خېټورو سلاکارانو له لاسه په باد وبوړ.
راځئ چې فرض يې کړو د کرزي دا دوره ختمه شوه نو بيا به څه کوي؟
په کلي کور او هغه ولس کې چې دی يې ځان ولسمشر بولی ځای لري؟
حامد کرزی که فرضأ شل کاله نور طبعي عمر ولري دا به چېرې تېروي؟
دا دلسو کلونو د ناروا بمباريو، چاپو او په ولس د هر اړخيزو تېريو او آن قام وژنې د غچ اخيستلو لپاره به يو کس
هم د کرزي مخ ته ونه دريږي؟
خامخا به يو چا ته په لاس ورشي نو ځکه زما ترخې ليکنې د حامد کرزي لپاره د خلاصون لارې برابروي خو که په
غور يې ولولي.
کېدای شي ما کرزي ته تندې خبرې هم ليکلې وي دا بيا داسې مانا لري لکه ستاسو د کوريو غړی چې ويده وي
او سهار وختي بايد راپاڅېږي لمړی اودس او لمونځ وکړي بيا په خپلو ورځنيو اړينو چارو پسې ووزي خو سهار
شي او ته ورو ورته غږ کړې چې پلانکيه نا وخته شو را پاڅېږه اودس او لمونځ دې وکړه خو هغه داسې درونږ
ويده وي چې ستا غږ په غوږو نه ورننوزي اخر مجبوريږي چې په لوړ غږ ورته وو ايې خو بيا هم نه اوري وروسته
بيا ورجګ شي ورويې وښوروې خو هغه هيڅ نه خبريږي اخر دې زړګی ورته ډک شي يوه ښه څپېړه ورته سمه کړې
سم خړس يې جګ کړې بيانو راپاڅېږي اودعوه درسره پيل کړي چې ولې دې ووهلم خو ته ورته وو ايې چې څومره
نارې مې درته وکړې چې جګ شه جګ شه اودس وکړه نا وخت دی لمونځ قضأ کيږي خو تا هيڅ نه اوريده لمونځ
اودس او ورځني کارونه ټول درڅخه پاتې شول نو ولې به څپېړه نه درکوم؟
بس زما دا ترخې ليکنې حامد کرزي ته پورتنی مثال لري که نه نوره خو کومه دښمني ورسره نه لرم.

کله چې دولسمشري په لمړيو ټولټاکنوکې ولس خپل زړه کرزي ته ورکړ ماد ولس لپاره د کرزي ملاتړ کاوه هيله مې وه چې حامد کرزی به دولس ارمانونه پوره اوهيوادبه هوسا اوبسيا کړي خو په لنډه موده کې وليدل شوه چې دسيسه خورا لويه او کرزی هسې د ولس دغولونې لپاره را مخ ته شوی دی.

د بن په کنفرانس کې په ناڅاپي ډول دستار سيرت عوضيدل په حامد کرزي اوبيا ترنن ورځې په دې کورسۍ دپاته کېدولپاره د کرزي ډول ډول عوام فريبي ددې سبب شوه چې زما په شان نورخلګ هم کرزي ته ترخې ليکنې وکړي.

لس کاله کيږي چې زموږ ولس دظالمانو په لمبو کې سوځي هر ځل چې په ودونو، هديرو ولسي ځايونو او کليو باندوبموري شوې کرزي يوڅوڅاڅکي اوښکې په رياکارانه ډول سره تويه کړې دي هيئت يې تعين کړی، سوله ساتو ؟؟ ظاهراً ښننه غوښتې يا نه خو وروسته له يو دوو ورځو څخه يې زموږ وګړي هغومره نور وژلي دي.

دا سلسله په دالسوکلونوکې همدا سې روانه ده جنازې په جنازو پسې ځي هيئت په هيتونو پسې روان وي ترڅو چې دبدبخت پښتون وروستی په درانه خوب ويده کس هم له (ساري ؟؟) سره سر وخوري اونور يو پښتون هم پاته نه شي.

درنو خويندو او وروڼو !

زه پښتون يم اوپه دې وياړم چې پښتون يم خونه يوازې دخپلو ټولو وروڼوقومونو درناوی کوم او راته ګران دي بلکې دنړۍ په مخ دهر انسان درناوی هم په ځان فرض ګڼم.

زه دچاله مذهب سره کارنه لرم دټولو مذهبونو لار په هغه يو لوی خالق ورغلې ده خوله بده مرغه چې دهغه لوی خالق مخلوق يو او بل د مذهبونو، ګوندونواو نورو ډول ډول جوړښتونو په سر سره وژني.

زما په سر کې د رنګ، پوست سيمې او ژبې په وړاندې هيڅ کرکه وجود نه لري زه داټوله نړۍ خپل کور ګڼم او په دې کورکې دهر ورور او خور په مړينه، بدې ورځې او هر ډول ناخوالو سخت خپه کېږم.

پدې ټوله نړۍ کې چې څوک ناځواني، جفاکاري، غولونې، سل ډوله نور فريبونه او دسيسې جوړوي ما په غوسه کوي.

زه چې په حامد کرزي نيوکه کوم داددې مانانه لري چې زه کومه دښمني ورسره لرم بلکې قهرمې په دې راځي چې هغه د دې درنې چوکۍ وړتيا نه لري هغه هره شېبه د ولس په سترګوکې خاورې وراچوي هغه دهيواد دسبا هيڅ پروا نه لري يوازې (پهلوان زنده خوش است).

تاسې وګورئ چې وړمه ورځ يې د يو بېګناه کنړي ټپي ماشوم په رياکارانه ښکولولو سره خلګ وغولول او دا پرون پرون دکندز د ځانمرګي پېښې په اړوند کرزی وايي چې:

"د افغانستان د خلکو د دښمنانو دا ډول وحشي تروريستي بريدونه به هيڅکله هم د هېواد د امنيتي ځواکونو او په امنيتي ځواکونوکې د افغان ځوانانو د شموليت روحيه کمزورې نه کړي، بلکې د خپلو خلکو د امنيت د ساتنې او د تروريستانو د ځپلو په لاره کې به ددې هېواد د ځوانانو هوډ لا پياوړی کړي"

عزيزانـــــــــو !

اوس نو تاسو پخپله فکر وکړئ چې آيا په داسې دردوونکو شېبو کې يوولسمشر يوازې همدومره بايدووايي لکه حامد کرزي چې وويل او که څه نور هم وکړي ؟

پکه دا دي لا بله سپکه:

همدا لحظه خبر را ورسېد چې د کونړغازي آباد په ولسوالي کې دناټوالوتکوبيا پنځه کسان ووژل خبرپه لاندې ډول دی:

## ناټو: کونړ ولایت کې پنځه وسله وال وژل شوي

د ناټو د نن ورځي په خبرپاڼه کې، د کونړ ولایت د غازي اباد په ولسوالی کې د پنځه تنو وسله والو د وژل کیدو خبر ورکړل شوی دی. خبر زیاتوي، چې دغه کسان په سپکو وسلو سمبال وو او د ناټو په هوایي بمباریو کې وژل شوي دي.

څو اوونی د مخه هم په همدې سیمه کې د وسله والو د وژلو رپوټونه ورکړل شوي وو ، خو وروسته څرګنده شوه ، چې په کونړي ولایت کې 73 تنه ملکي خلک وژل شوي دي.

د دې ورستیو عملیاتو رپوټ په داسې مهال ورکول کیږي، چې یوه ورځ مخکې ولسمشر کرزي په دغه ولایت کې د خپل سفر په لړ کې د بهرنیو ځواکونو د عملیاتو د بندولو خبره کړې وه. اوس خو داسې مالومیږي، چې له نناغلي کرزي څخه هم خوار ملا جوړ شوی.

سپینتمان

### دا خبر دروحي ویبپاڼې ته را رسېدلی و.

را به شو خپلو خبرو ته چې هغه هم په حامد کرزي را څرخي .
دحامد کرزي تر ټولو لوی جرم دا دی چې دجنایتکارانو مرستیالي یې کړې دا ډول کړنه دحقوقي نورمونو خلاف عمل دی چې دقانون په ځانګړو موادو سزأ لیدلای شي .
که په یوه جرمي پېښه کې بې له متهمله دری نورې مقابلې څېرې وګورو چې هغه عبارت له مجرم ، جرمي همکار دریم هغه څوک چې نه مجرم دی او نه یې له مجرم سره مرسته کړې خو دجرمي صحنې ټول جریان یې په خپلو سترګو لید بیا هم خاموش پاته و نه پخپله لاس په کار شو او نه یې کوم بل چا ته غږ ور وکړ.
دا پورتني دری واړه کسان ځانګړې سزاوې وینې مجرم له ټولو سخته سزأ وینې خو کله ناکله دجرمي پېښې د مرستیال رول دومره لوی وي چې دهغه په همکاري سره مجرم هغه څه ترلاسه کړي چې پخوا یې په پام کې هم نه و خو مرستیال په اګاهانه ډول داسې زمینه ورته برابره کړي.
په پورتني صورت کې له مجرم څخه هم دمرستیال پېټی درندیږي مانا زیاته سزأ وینې .

نو زما ګرانو خویندو ورونو !

حامد کرزي له مجرمینو او جنګي جنایتکارانو سره دومره لوړه مرسته وکړه چې د ده سزأ به له مجرمینو څخه لوړه وي .

یو لنډ مثال:

دلسوکلونو په جریان کې راغلو نابللو داسې کرغېړنې کړنې ترسره کړې چې دخپل ځان ددایمي حضور لپاره یې په لوی لاس دجګړې ساحه پراخه کړه په پښتون مېشتو سیمو کې یې داسې لمبې بل کړې چې هم یې پښتون په پښتون وواژه او هم یې د هغو سیمو پښتانه له زده کړو څخه محروم کړل.
په غیر پښتون مېشتو سیمو کې نه تنها چې ښوونه او روزنه په مخ وړاندې ځي بلکې پرله پسې پوهنتونونه هم پسې پراخیږي.
که دټولو پښتنو له ولایاتو څخه لوړو زده کړو ته بریالي پښتانه وشمېرل شي نو دجاغوریو دولسوالي په اندازه هم نه دي پربښودل شوي.
دا جریان حامد کرزي ته مالوم دی خو قصدأ خاموش دی مانا دجرمي صحنې داسې یو ناظر دی چې که وغواړي یو څه کولای شي مانا دجرم مخه نیولای شي خو له بده مرغه همداسې سوکمون بوکمون ناست دی.
دلته به داهر څه اخوا پرېږدم را به شم زموږ یو شمېر متعصبو تاجکو ، هزاروو او ازبکو ورونو ته چې دوی په دې زیات ویاړي چې د دوی ورونه زامن لوړو زده کړو ته تېر شول ډاکتران به شي ، انجنیران او نور او نور به شي او

دپښتنو په دې بدې ورځ خوښ دي چې ښه شول چې له تحصيل څخه بې برخې شي در په در وګرزي او واکداري ټوله مورِ ته را پاته شي.

اوس به نو زه داسې صاف او پاک دغويو شمېر متعصبو ته وو ايم کرزی دې هم واوري:

دهر پښتون محروم ول له زده کړو څخه سبا تاسو ټولو ته لمبې راورېي هر څوک چې په علم ملبس نه وي هغه دهر چا لخوا په ډېراسانه ډول سره غولېداى شي.

زمورِ ګاونډيان زمورِ غليمان دي دوی به له هرې علمه افغان څخه دومره ناوړه ګټه پورته کړي چې نه به دتاجک ډاکتران او انجنيران ارام ژوندورڅخه وکړي او نه دهزاروو او نورو.

زما په نظر بهترينه انساني او عادلانه لار داده چې په لمړي قدم کې له نا امنو ولاياتو څخه ځوانانو ته دلوړو زده کړو ښه چانس ورکړ شي لويو ښارونو ته راجزب شي اوورپسې دهرولايت په سهميه فکر وشي دا به دانصاف تر څنګ هم د نورو وروڼو قومونو په خير وي اوهم به د هيواد دسوکالي سبب شي.

په درنښت